# د ټي ټي پي خپلمنځي اختلافات لا زيات شوي

باوري سرچينې د دې خبر پخلی کوي چې د ټي ټي پي مهمند ډلې او همدارنګه د سوات او باجوړ ډلې هم له مرکزي مشرتابه ناراضه دي او له ټي ټي پي څخه د جلا کېدو په اړه سلا مشورې کوي۔

## په ټی ټی پی کې د داخلي اختلافاتو عمده عوامل په لاندې ډول دي

- د مرکزي مشرتابه سرچينو غير عادلانه ويش۔
- په اداري چارو کې محسود او وزيرخامس ته د نورو قومونو په پرتله لومړيتوب ورکول۔
- په مهمو مسايلو کې له نورو ډلو سره مشوره نه کول۔
- د امنيتي ادارو له خوا د تلفاتو زياتوالی۔
- د مالي او اداري ستونزو زياتوالی۔
- په پاکستان کې د ترهګرۍ لپاره د افغان جنګياليو کارول۔

د اختلافاتو هوارولو لپاره د باجوړ د تحريک انصاف مشر شيخ ګل محمد او د سوات ډاکټر حمود د مفتي نورولي سره جرګه کړې وه چې ناکامه شوې او مفتي نور ولي د ناراضه ډلو د غوښتنو منلو نه انکار کړی دی۔ په داسې حالاتو کې د دغو ډلو د جلا کېدو چانس ډېر شوی دی۔